عصمت قانع ۲۰۱۳/۱۲/۱۲

# ځوک باید ماضي جبيره کړي - کرزی که حکمتيار؟

د بې وطنی په زمانه کې پېښور که له يوې خوا د افغان مهاجرينو لپاره له اوره ډک سقر وو، خو د شعارونو او نابلده غومبرونو نوې ناټکونه يې هم درلودل.
ايډيالوژيک او فکري دګماتيزم او تنګ نظرياتي جادو وار له واره د مهاجرينو په ځوان نسل خوله ډکه کړه او دغه نسل يې د بګيو د آسانو په نسل بدل کړ.
منطق، عقل، د فکر ازادي، انديښه او د مسأيلو د څېړلو سره سينه د ځګړې په توده لمبه بدله شوه، هر چا د ايډيالوژی په عينکو کې شرق او غرب تباه او برباد ليدل او د اسلام د مکتبي روح په قالب کې به يې د عمري عدالت ګل او ګلزار جهان د ګوتو پرسر نڅولو.
شعارونه وو، ناري وې او غلبلي وې، د خلقيانو او پرچميانو ترڅنګ ناسيونالستان هم کافران وو، لبيرالان سوډران وو، ديموکراتان بې خصلته ايجنټان وو او په افغانستان کې د ظاهر شاه او داود خان په حکومتونو کې لوړ رتبه مامورين هم د افغانستان د بربادۍ عاملين وو، ځکه چې د دوی په وجود کې روسي تجاوز ته لاره اواره شوې وه.
د افغانستان په کليو، کوڅو، بانډو، دښتو، بيابانونو او ښارونو کې د مجاهدينو په لاس هم وژل شوي وو. افغان مردار وو او هغوی چې په پنجابی کيله به قبض شول او مړه به شول شهيدان وو او د حورو زومان وو، د غلمانو حقداران وو، د دين پتنګان وو.
په غزني کې د قاري بابا د جبهې يوه جلاد به د خلکو څټ بوبولو او بيا به يې د امريکايي سپي په څېر پوزه پورته ونيوله او غږ به يې کړو، چې د دغه سرې د خلقي بوی ځي، ژر يې مردار کړئ، د حق د لارې مجاهدينو به هم ژر د کلشينکوف ججوری پرې تش کړو او د غزا ثواب دارين به يې په نصيب شو.
په ټول جهاد کې ګلبدين حکمتيار نازدانه وو، رهبر فرزانه وو، مجاهدينو او د پنجاب انتخاب وو، د منصوري دلدار وو، د راولپنډۍ د جهادونو ذوالفقار وو او د نړۍ د مسلمانو مجاهدينو سالار وو.
د پاکستان د جمعيت طلبه سورلنډيانو به شعار ورکاوه، چې مجاهدون کا ذوالفقار، حکمتيار، حکمتيار.
په پېښور کې به دې نورو اخوانيانو چې په امريکايي جمپر او چترالي پکول به ملبس وو، شعار ورکاوه، چې اوه ښځي او يو نر، انجينر، انجينر.
يعني دا نور اوه تنه نر ښځوکي دي، يو انجينر حکمتيار په کې نر دی. حکمتيار ځکه نر وو، چې د پېښور په کوڅو کې يې د افغاني روښنفکرانو وينه، ځمکې ته نه پرېښوده، چې چا به هم د پاکستان د راولپنډۍ له زندی د سر ابستلو هڅه کوله په مرګ مفاجات به محکوم وو.
د افغانستان د جهاد سياسي نماينده ګي د مملکت خداداد پاکستان حق و، د داسې حق نه منل شين کفر وو، دغه شين کفر بايد له مېنځه تللی وای، د شنه کفر د له منځه تللو مجاهدين غازيان وو او وژل کېدونکي شنه کفار ټول جهنميان، دوزخيان او ګناګاران وو.
د پاکستان افغاني باغيان د ورسک ډېم ته ولوېدل، د کبانو خوراک شول، د اټک په خيبر اباد کې د اباسين څپو په مخه واخيستل او د شمشتو په دښته کې د هوا کارغانو او مرغانو وخوړل.
مجروح، شګيوال، الفت، غروال، کتوازی، پکتيانی، همدم او نور بې شمېره افغاني روښانفکران له روس څخه را وتښتېدل، خو پنجاب ته د بغاوت په تور په توره تياره کې و وژل شول.
د دې افغانانو ګناه داوه چې د روس پر ضد د افغاني وينې زور يې د ازادۍ پر رڼا ګانو باندې پيرزو کاوه او نه يې غوښتل چې د افغاني وينو په زور د پاکستان د اټومي پروګرام د موټور ځرخونه واوړي، بلکې غوښتل يې چې خپله وينه د ازادۍ هغې ډېوې ته د تيلو په توګه ورکړي، کومې ډېوې چې د روان توپان په څپو کې د افغان هويت او افغان موجوديت پر ځلي رڼاګانې جوړولې، خو پاکستان لګيا وو د افغانانو په وينو يې د خپل اټومي پروګرام يورانيم غښتلي کول.
د حکمتيار صاحب پير کامل مولانا ضياء الحق په هماغه وخت کې په ډاګه وويل، چې پاکستان په خپل ګاونډ کې خپل سري او د پاکستان د ارزوګانو مخالف افغانستان د زغملو وړ نه بولي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

ضياء الحق به ويل، چې افغانان نه شي كولای د خپل جهاد سياسي نماينده ګي وکړي. ډګروال محمد یونس چې په هماغه وخت کې د پاکستان د پوځي استخباراتو د مشر جنرال عبدالرحمن سکرتر وو په خپل کتاب (د خرس تلکه) کې ليکي: يوه ورځ جنرال اختر عبد الرحمن تليفون راته وکړ او ويې پوښتل، چې همدا اوس د امريکا سفير چېرته دی؟
یوسف ليکي، چې ما ورته وويل: زه نه يم خبر، خو جنرال په غوسه او قهر راته وويل، دا نا خبري د ښنلو وړ نه ده. همدا اوس د امریکا سفير د اټک پر پُل واوښت او پروګرام لري، چې د افغانستان د مجاهدينو له مشرانو سره وګوري.
تاته په غوڅه لهجه امر کېږي، چې نور بهرني ديپلوماتان حق نه لري، چې د مجاهدينو رهبران ووينې او نه د مجاهدينو رهبران اجازه لري، چې له غربي ديپلوماتانو سره ملاقات وکړي.
جناب حکمتيار صاحب!
که دې په ياد وي زه هغه وخت په پيښور کې وم او د اسلام غږ د اخبار لپاره مې له تا څخه مرکه اخيستله، له تا مې وپوښتل، چې آيا د پاکستان دا ډول درېځ د افغانستان د جهاد استقلاليت تر ګواښ لاندې نه نيسي؟
خو تا په ځواب کې راته وويل، چې د پاکستان مجاهد پوځ (؟!) او د پاکستان د ديپلوماسی دستګاه په مهارت سره کولای شي د افغان جهاد مفاد او منفعت وساتي.
دا پورته خبره کټ مټ ستا خبره ده، چې بشپړ او انکار نه منونکی سند يې اوس هم له ماسره شته. آيا افغان جهاد دومره يتيم وو، چې د وصي توب واک او اختيار يې د پاکستان پوځ پر غاړه واخلي؟
حکمتيار صاحب په هماغه وخت کې ستا نشراتو ټول هغه افغانان د کفارو په ډله کې وشمېرل چې غوښتل يې د خپلې داعيې نماينده ګي په خپله وکړي.
د پڅواک ګناه همدا وه، چې له پيښوره وشړل شو، د جنت ګل غروال جرم هم همدغه وو، چې د جهاد د سياسي نماينده ګی لپاره يې د پانګې تابيا کوله، چې و وژل شو او تر اوسه يې قبر چاته نه دی معلوم.
د مجروح ګناه داوه چې په يوه ګروېږنه او پلټنه کې يې دا نتيجه اعلان کړه، چې افغان مجاهد ملت د لويې جرګې او پخواني پاچا په وسيله غواړي د خپل جهاد د زعامت لپاره ملي پلاټ فارم جوړ کړي.
خو تا د ISI په سلنګسري تومانچه باندې په سپينه ورځ وويشت او بيا دې د هغه سپين ږيری پلار شمس الدين مجروح ته لاس پورته کول او فاتحه ورکول هم کفر بللو.
جناب حکمتيار صاحب، د مجاهدينو په رهبرانو کې يوازې ته وې چې د ISI په وساطت به دې د CIA له مامورينو سره کتل.
خو هماغه ISI بيا د طالبانو په امبور باندې خصي کړې او د مسعود رحم او کرم ته يې کښېنولې، د ايران اُخندانو ببرته د پنجاب د ويالې پانياب ته ورشوټ کړې.
حکمتيار صاحب تا تر هغو پورې پښتانه و وژل، چې د ISI ورته اړتيا وه، تا تر هغو پورې پښتانه ووژل، چې د سر سړی په کې قحط شو.
هېڅکله دې د خپلو سترو جهادي جبهو پر پښتنو قومندانانو رحم ونه کړ. د پښتنو درني پګړۍ دې د قلم، چمن او زرداد په سپو وداړلې او مسعود دې په لوی لاس د تاجکو قهرمان کړ.
تاجکان خو تر رباني له تا سره په جبهو کې ډېر وو، همدا ته وې چې د مسعود په باره کې دې د KGB او ISI ګډه پروژه عملي کړه او بيا دې له هغه سره په جګړه کې د کابل جنوبي سيمې چې عموماً د پښتنو د هستوګنې سيمې وې لوټه لوټه کړې.
جناب حکمتيار صاحب! ته يو ځل بيا را په ياد شوې، پرون مې د ارګ په نامه ستا يو ليک ولوست، تا خو ارګ ته ډېر مکتوبونه رالېږلي دي او د جانباز سرفراز په وسيله دې د دغو ليکونو په عوض کې ډېر بکسونه له ډالرو، افغانيو او پونډونو څخه پر مامور وړي دي.
خو په تازه ليک کې دې ماته يو ځل بيا ماضي را په ياده کړه. هغه ماضي چې زما د مجاهدينو هېواد د تېر تاريخ په وينو لړلي بابونه او فصلونه لري. تا جمهور رئيس حامد کرزي ته ليکلي دي، چې د امنيتي او دفاعي تړون په نه لاسليکولو به دې ماضي جبيره شي.
حامد کرزي د خپلې ماضي په جبيره کولو کې تر تا لوی استاذ دی او ښه پوهېږي، چې خپله ماضي څنګه جبيره کړي، خو زموږ مشوره ستا لپاره داده، چې ته خپله ماضي جبيره کړه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هغه ماضي چې د افغان وطن د بنسټونو له ورانولو سره ملګرې وه، هغه ماضي چې د دې وطن د اقتصاد له تباه کولو سره تړلې وه، هغه ماضي چې د پنجاب د ستراتېژيکې خلا د ډکولو لپاره په کې له افغاني جينو سايډ څخه کار واخيستل شو.
که د افغانستان بنيادونه نه واى نړېدلې، که د افغانستان زراعت نه واى تباه شوى، که د افغانستان د مالدارئ اقتصاد له رکود سره نه واى مخامخ شوى، که د افغاني کادرونو د روزلو مخه جګړې نه واى نيولې، که د افغاني سوداګرئ قافلې جهادي مداريانو نه واى لوټ کړې، نو نن به موږ خپله پانګه درلودلاى او له خپله جيبه به مو د خپل امنيت او محافظت د لګښت نغده بيه ورکولاى.
اوس چې هر څه سرچپه پراته دي، موږ مجبوره يو له نړئ سره دا ډول معامله وکړو. ښه ده چې دغه معامله د کابل له ادرسه کوو، نه د اسلام آباد له پتې او ادرس څخه
پاى
د محور ملی ورځپانی څخه په مننه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ